**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۸/۰۹/۲۹

# جهان راته بلاسو!

دا شعر ما دوه کاله پخوا ويلی وو. نن مي په خپلو کاغذو کي پيدا کړ او دا دئ نشروع ئي. (م.هـ)



ژړا به ولي نه کړم؟ چي اسمان راته بلا سو
کافر راته بلا سو، مسلمان راته بلا سو

ورمو چي ئې د ګلو په کلو وم نازولی
نن هغه باغ و بڼ و ګلستان راته بلا سو

نغمو چي نخولی وم په شان د تنکی ځانګي
افسوس چي هماغه هزار داستان راته بلا سو

چي حُسن مي په بيه د ځواني وو پېرودلی
خپل عشق راته بلاسو، خپل جانان راته بلاسو

په تمه د چوپړ چي مي ټول عمر د ځان مل کړ
هماغه مات قلم و خپل بيان راته بلا سو

ګيله مي نه له خپله ده، شکوه نه له پرديو
زما له توره بخته هر انسان راته بلا سو

ني لاس ته سم راوړلای نه مي تمه ځني شلېږي
د ورک يوسف په لټه ټول کنعان راته بلا سو

پښتون ته پښتو وايم خو په ژبه نه پوهېږو
پړه اچوو پر بل چي اين و آن راته بلا سو

د نوم مراد معرفت دئ مګر زماپه حق کي خلکو!
"هوتک" راته بلاسو"معصوم جان" راته بلا سو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ